# علامه اقبال

# د خوشحال بابا وصيت چيرې ولوست؟

**Essence of the final words of Khushal Khan Khattak Quoted by Allama Muhammad Iqbal.**

عبدالکریم بریالے

**Abstract**:

This paper is going to unpack interesting dimensions of the historical final Quotes of the reckoned Pashtoon poet, scholar and warrior, Khushal Khan Khattak. During the final days of Khushal Khan's life he had to fight his own son, Behram Khan, who forcedly substituted him and proved his loyalty to the Mughal Empire. He was assigned the responsibility from Mughal to curb the revolt outraged by Khushal Khan with the support of several Afghan tribes. Khushal Khan had to leave his ancestral place, he took refuge with a sub-clan of Afridi tribe and he died in isolation, having no attendant of his family as described by his son Ashraf Khan in his lament. Allama Muhammad Iqbal, in one of his collection of poetry the Gabril's Wing (Bal-e-Jabril) has entitled a poem with the final words of Khushal Khan, which describe that he had said to his faithful, hosts that, "he must be buried in place where the hoops of Mughal Cavalry could not reach his grave. This message of the Great Khan is quoted by, the well known English orientalists Major Rawartee. The paper triangulates several authentic historical references for locating the actual position of the final words and particular message of Khushal Khan.

**يادونه**: د اپرېل مياشتې په 2003م کال کښې له محترم ډاکټر اسرار صاحب او محترم مشتاق مجروح يوسفزي صاحب سره د ډاکټر په استانه کښې د مجلس په توګه دا موضوع مذاکره شوې وه. **(بريالی)**

په پنځم د ذی القعدي کال 1076هـ جولايي 1667ء کښې اورنګ زېب مغلي باچا خوشحال بابا د رنتهبور له قلا څخه يله کړے ؤ او دا قطعه يې وئيلې وه:

په وسط د ثلورمې خور په بند شوم
په رجب د بل کال وختم په کړ
په پنځم د ذ القعدې له کړې کوز شوم
دوه کالونه پنځه میاشتې شې د تر
ښه تاریخ د استخلاص را له ره راغے
لاړ په کوزه د سید میر د مور لپر (1)

خو د بنده د خلاصي، وروسته دے نظر بند شوے ؤ او کور ته نه شو تللے. په کال 1077هـ اګست 1667ء کښې خوشحال بابا پوره له جېل ځخه خلاص شوے ؤ او په لومړي د رجب د ماخستن په وخت د ډیلي په بازار کښې په اس سپور روان ؤ چې اس یې وتورېدئ او دے ځنې ایله شوئ او ښنه یې خوږ شوې وه. او په هغه یې قصیده هم لیکلې وه.(2)

تر دې یو کال وړاندې یې خپله وصیت نامه په 1076هـ لسم رمضان کښې خپل زوئ اشرف خان ته کښلې وه او د عمر اسماعیل خېل په لاس یې ور استولې وه. هغه وصیت نامه یې داسې ده:

"اوه پړکه وصیت نامه مؤکده په ډېر تاکید موشحه په مبالغه شدید چې فرزند ارجمند د اشرف خان واړه فرزندان جمع هوا خواهان یاران دي په دا عمل عامل وي. عامل دې د هره یوه پرې تل وي. د ما د قید په حادثه د اولس په تفرقه اووه قسمه عالم داخل دے. که پردي دي که خپل دي. د هر چا سره موافق د یو د کردار د عمل په مقدار سلوك را ه و رفتار کاروبار کا، بویه چې تخلف تجاوز په کښې واقع نه شي. اول قسم بابا زے دے، بیا رحمت زے یا کم ذات زے بیا سعادت خېل بیا مذبذبین بیا ناقص خېل بیا مردود خېل وبلل شي.

1- بابازے بائي زے دے لکه چې د ما د پلار خونه هسې دے چې فرزندان پکښې ورغلل. د اورنګ زېب باچا بدي یې راسره واخسته. حق یې د دوستي د خویشي هرچه د یاري اشنائي وه په ځائ کړ.

2- رحمت زے راښیزے دے چې په دا ننګ و شرم را سره شریك شول. دوئ دواړو اولسونه سره څو توان رسیږي نیکي بویه. د پښتونولي پکار د مغل

---

کړ: قلعه. تر: ترل. لپر: لغړ.

په دربار د دوئ په بهبود مته کوشش بويه. سرومال و ملك دريو په كار پرخنه كښې كه پكار كيږي دريغ نه بويه. خوښي دوستي دي هم له دوئ سره وي بلكې دواړه اكوزي سره دے دا حال بحكم مستحكم وي.

3- كمېزات زے كمال زي دي په داهسي وخت يې دهسې كميني چار وكړ چې كډه يې ووهله. پښتنې يې سرتورې كړې. د دوئ كمال نه وو زوال يې ؤ.

4- سعادت خېل هغه دي ننګ يې وپاله، نمك مې يې حلال كړ. د سردار متابعت يې ځائ شرم وكړ. سعادت خان سره د ما د زهوزاده چې حيران پرېشان سېكرئي لره لاړل، سعادت د ديو دا وه چې دا پت همت يې ځائ كړ. واړه سعادت خېل دي چې د ما د اولاد حكم وړونے دے. فرقه دي عزيزه مكرمه وي. دوستي خوښي دي په قام كښې هم له دوئ سره وي. قلنګ عشر، راهذري هر محصول تكليف د ترهفته پښته په ديو نه وي، هر شان تقصير چې دوئ وكا. تر اوه نوبته دي ور معاف وي. د دربان منع نه دي نه وي په واده په شل شومه وي ورسره مدد كړے شي. پياده دي په سواره شمارلے شي. سور دي په دوو سواره حساب مذبذبين هغه دي چې سعادت ورځنې لاړ شه، دوئې متفرق لاړل، يا په وطن كښې په بدحال متحير پاته شول. هيڅ يې نه زده وو چې څۀ وكړي. دا فرقه هيڅ ګرم نه دي، د ما د اولاد ورپاته نۀ شو كه څوك يې د ضرور د مخه ليدلے وي يا يې د چا څۀ خوړلي وي هم معاف دي، لكه كله چې تل شول هسي دې كتل شي. انعام او اكرام هر څۀ په ځائې بويه، په دا كښې هغو چې د چا مخ ليدلے نه وي هغه دې بيا نتيجه مومي.

۶ - ناقص خېل هغه دي چې حق د برادري د سالها پرورش يې په ځائ نه كړ، پس د سعادت خان نابود يې وليد. بخرې حصې مهيني يې د ده قبولي كړې، ورسره په مثل بندوبست يې د ملك كاوه، دا نقصاني شول نور پر خاش دي ورسره نه وي. ډېر د يوه جنګه وتېښې په بل جنګ په كار كيږي. ساتل دي شي د نقصان سره.

۷ - مردود خېل خو معلوم دي د دوئ جزا سزا په خدائ سپارلے كه حق پوشي او كفران يې د نعمت كړے دے. هغه هسې پاداش پاديشونه به پرې كيږي، خپل شامت ورلره بس دے چې تراوسه لاس پرې الوده نه شول اوس به څۀ آلوده كيږي خو د صبر او د لوئ نيت په توره دے خوځيږي.(3)

"بادشاه ته د خوشحال خان د ایله کېدو وروسته مهابت خان وئېلي وو چې: "دا خانه زادده هیڅ یې په خاطر کښې نشته. بادشاه ورته وئېل اختیار لرې، خان په دې خبره له مهابت خان څخه زهیر شوے وو چې د بادشاه دې څۀ غوښتې وائ خو مهابت خان وئېل هسې ما ته د بادشاه نه د معطلولو وسواس په زړه کښې ؤ. خو خوشحال مرور غوندې ؤ ورته وئېل یې زۀ د تا سره نه ځم، خو زامنو مجبوره کړئ. (4)

وروسته د لنګرکوټ د قلعې د جوړولو پېش نهاد وسو چې د یوسفزي خلاف کاروایي وکړي خو خوشحال انکار وکړ او ویې وئېل: "په دا همه دښمني یوسفزي مې د قبایل په کار شول اوس زۀ په کومو سترګو بیا د یوسف زیو دښمني وکړمه. او بادشاه سره هم دا مناسب نه دي چې دا قلعه سازه کړي، شمشېرخان د چارهزارې منصبدار ؤ چې په هغه مجلس کښې ناست ؤ د یوسف زیو د مهم مبالغه یې وکړه. په دا سبب یې ووئېل چې که لنګر کوټ سازشي بادشاه به د فوځداري دما راکړه. (5)

خوشحال خان په دا مجلس د پښتو بیت في البدیهه ووایه:

مهـم د یوسف زیـو درتـه ووایـم ښـکاره
د خـرۀ خسـي کـول دي لاس ګنـده ګریـوان پـاره

مهابت خان بادشاه مطمئن کړے ؤ چې دا قلعه جوړول مناسب نه دي، خو شمشېرخان په پټه باچا ته کښلي ؤ چې لنګرکوټ نیول عین صلاح دولت دے، دوئ چې دا خبره نه ومنلې نو خوشحال په زړه کښې هم تنګ ؤ او دا شعر یې هغه وخت وئېلے ؤ، دا د خېبرو هغه پیښې ته اشاره ده چې بیان به ئې وروسته راشي.

د غفـا[*] د کـار بهـار ګـوره خوشـحاله!
چـې د مـړو بـه ئـې هـوا وشـي هـوس تـه

---

[*] 1083هـ

مهابت خان سم دستي بدل شو او محمد امين خان د کابل صوبيدار جوړ شو او را روان شو هغه مغرور او د خيبر د غرو د پښتنو په منځ کښې يې شراب وڅښل. دلته د حسين بېگ چې يوه صافي عالم ښځه (پراچګی) يې رابللې وه چې سپاهيانو د هغه په وتلو پورې مسخره وکړه او په دا وخت دوه درې کسه سپاهيان مړه شوي وو. (6) بيا د دې د جګړې د پس منظر څخه تول قبايل يو شوي وو او چې محمد امين خان کابل ته تلئ د دوئ په فوځ باندې د خيبر د قبائلو هغه بريد وشو چې د محمد امين بچيان په کښې مړۀ شول او څلوېښت زره فوځيان قتل شول. (7).

د خوشحال بابا دا يوائېنې وصيت نامه د قيد څخه د خلاصېدو په مهال خپل زوئي ته استول شوې وه. وروسته چې وطن ته ستانه شو نو يې د مغل په خلاف پاته ژوند په داسې سختيو کښې تېر کړ چې د ژوند وروستے جنګ يې د خپل زوئ سره وو چې بهرام خان د مغل صوبيدار څخه مرسته غوښتې وه چې فوځ را واستوه که دا *"زور زمرے"* نيسې. خوشحال بابا هغه وخت يو مخ يوائې وو. او په حمله کوونکو باندې يې په زوره ږغ کړے ؤ. (د سرکوزو زامنو) اودس ته مې پرېږدئ چې دا لمونځ خو وکړم. په دې يوه زري حالت کښې يې د بهرام د لښکر مقابله کوله. او ځان يې په هيڅ ډول په لاس نه ورکاوه. بهرام ناخلف خپل پلار مغل ته په لاس ورکاوه. په خپل پلار پسې يې سترګه وړله چې کله هغه خپل زوئ ګوهر خان د افضل خان مرستې ته استولے ؤ او خوشحال بابا يوائې پر کور ؤ او بهرام چغل ورته کښېنولے ؤ. او دښمن قوت د بابا په کور حملې کولو تابيا وکړه او مکرم خان د دې پيل کړے ؤ خو خوشحال بابا خپل ځائ پرېښوو چې اسپه يې هم کمزورې او وږه وه. خو دښمن د حملې کولو جرات نه سو کولے. ولې چې د هغه سره ملګري خلګو اوس هم خوشحال د يوه سردار په صفت منلئ. (8)

اروا ښاد پروفېسر پرېشان خټك وايي چې: "د مکرم خان د لښکر مقابله درو کسانو نه شوه کولے. ځکه مکرم خان د نيکه خلاف جنګ نه کاوۀ. بلکې د هغه را وستولو لره راغلے ؤ:

مگر مکرم خان اپنے دادا کے خلاف لڑنے نهين اسے بهرحال لانے کو گيا تها. جس کے نه هونے ك صورت مين کچھ کئے بغير واپس چلا گيا. دو بار بقول

افضل خان جب بهرام خان نے بیړیون مین کس کر لانے کیلئے مکرم خان اتنے بړے لشکر کے ساتھ خوشحال کے پاس بهیجا تو اس وقت اس پاس کوئ به نهین تها ، نه صرف تنها تها بلکه بندوق به پاس نهین ته. صرف تلوار ته. کئ دن تك محاصره کے باوجود یه لشکر اس تك پهنچنے کے بغیر واپس هوا.

کیون! خوشحال خان ان کو اپنے پاس آنے نهین دیتا تها. اس سے صاف ظاهر هے که بیړیون سے بهرام خان کا مطلب یه تها وه مرض سے تو آتا نهین. اس طرح زور کر کے اسکے خلاف مرض سرائے تك لے آؤ. (9)

د دې واقعې ذکر کولو څخه اصل مراد دا دے چې افضل خان د ژوند په وروستني وخت کښې چې مغلو بهرام خان د خوشحال بابا خلاف پورته کړے ؤ او هغه د خپل پلار سره کوم سلوك کاوۀ او نور ورونړو یې هم د هغه په ګرفتارۍ ګومارلي وو. مؤرخین په دې حقله د تاریخي شواهدو له رویه څۀ شکوك لري. د اروابښاد پروفېسر پرېشان خټك موقف دا دے چې هغه خپل پلار په زنځیرونو کښې تړلے مغل ته نه ورکاوۀ بلکې اکوړي یعني خپل سرا ے ته یې په زور راوست. لاکن دلته د بهرام هغه اطلاع یې د پېښور صوبېدار ته ورکړې وه چې سپاهیان را واستوه چې دا "زوړ زمرے" ونیسي. د دې راوي هم افضل خان خټك دے. د افضل خان خټك ډېرې دعوې غلطې دي. ځکه د هغه په تاریخ کښې چې د دې واقعاتو کوم ذکر شوے دے. هغه د تاریخ د لوستونکو دپاره د شك وړ ګرځي، مثلاً هغه په خپل بې ترتیبه تاریخ کښې د خوشحال د مرګ واقعه په هغه ځائ کښې کوي چې د نورو واقعاتو تسلسل دے. هغه وخت افضل خان د مغلو په نوکري اخته دے او خپله سرداري کوي. بهرام له دۀ څخه بېل د سردارۍ په هوا مست د خوشحال د نیولو تابیا کوي. افضل خان د مصري بانډې په حسن خېلو کښې مصروف دے او د جلال خان د لیارو سره د جنګ په اور اخته په قبائلو کښې مصالحت راولي او ځان د مهمندو او سوریاخېلو را تېروي او بیا د بولاق له خلقو سره په جنګ اخته شي حتٰی چې دلته په خپله لیکي چې پنځه سوه کسان مړه شول چې د پیر زین الدین تر کلي پسې تللي وو. او د طاؤسي عزیزان چې سل ځلوېښت کسه زغره پوش یادوي او هغه یې ټول وژلي وو. (10)

چې فتحه يې حاصله کړه نو سم دستي په خپل تاريخ کښې جلا (فصل) په نوم ورکولو سره د خوشحال بابا د مرګ او د نزع د حالت خبر ورکوي، لوستونکي اندازه کولی شي چې دلته د واقعاتو تسلسل او سياق د کلام هم موجود نه دے او دا واقعه په کال **1136**هـ کښې شوې وه چې د هغه وروسته افضل يکې يوه قصه د خپل تاريخ زينت نه ده ګرځولې. او سم دستي **36** کاله شاته ځي او وايي:

"په وخت د نزع هرچه فرزندان ورته ټول وو هغو ته يې وصيت وکړ چې که مو بهرام وړاندې وروستو په لاس کښېوزي مړ يې کړئ نيمے يې زما و سر ته نيمے يې زما پښو ته وسېزئ. هاله به زما روح له تاسو خوشنود شي"(**11**).

وروسته يې د اشرف خان چې د دهٔ پلار وو او ګوهر خان چې د دهٔ اکا وو د هغه په فارسي ژبه په شعر کښې تاريخ ليکلے دے. دا دويم وصيت دے چې دے يې په خوشحال بابا پورې تړي چې د خوشحال بابا مزاج که څهٔ هم سخت ؤ خو د کردار له رويه بالکل غلط او سراسر بهتان دے چې په خپل نيکه پورې يې تړلې دي. د دې وصيت د دروغ کېدلو دپاره د تاريخ او وخت، واقعاتو او د خوشحال بابا د عالي کردار له رويه ډېر ثبوتونه موجود دي چې په هيڅ توګه صحيح نه شي کېدائ. که څهٔ هم د خوشحال بابا د خپل زوئ په حقله ډېر د غندنې شعرونه ليکلي دي او هغه يې عاق کړے دے او د خپلو زامنو په حساب کښې يې نه دے بللے. خو د يوه غيرت من، شارع، متشرع مسلمان او باکردار صوفي په ډول هغه د خپلې مغلوب الغضب طبعيت په وجه دومره هم له معياره نه لوېدلے چې زامنو ته يې د هغه د سېځلو حکم ورکړے وائ. د افضل خان د بهرام خان سره په سرداري جنګ او د ژوند په اخير کښې خوشحال بابا د دوئ دوو تر منځ د مصالحت کوشش هم کړے ؤ. چې د اشرف خان تر ګرفتارۍ **1092**هـ له مخه هم او وروسته هم هغه دا زيار ايستلو چې خپل دودمان له شره خلاص کړي. خو د افضل خان خپل مشر اکا عبدالقادر خان هم معاف کړے نه دے او په (کاډي) او (باري) القابو يې ياد کړے او کله په مفسدانو او منافقانو په نامه هم يادول شوے دے. (**12**)

جارج راورټي او وروسته بلوم هارټ او مېکنزي کښلي دي چې: "عبدالقادر خان خټك د خپل ورارهٔ افضل خان له لاسه په دې اساس ووژل شو چې د دهٔ سرداري يې نهٔ منله. (13)

ښاغلي زلمي هيوادمل زياتوي: "دا خبره که څهٔ نه وي نو هم بې څهٔ نه ده. (14)

عبدالحليم اثر ليکي چې: "عبدالقادر خان يې شهيد کړ، افضل خان د تره قاتل ..... (15)

ډاکټر خديجه فيروزالدين چې په خوشحال بابا يې لومړۍ پي ايچ ډي مقاله په کال 1940ء کښې د پنجاب پوهنتون څخه ترلاسه کړې ده چې نګران يې علامه اقبال مرحوم وو هغه ليکي:

Khushal seems to have left no will, andas there was no legacy in the form of property to be bequeathed. (16)

ژباړه: خوشحال بابا داسې ښکاري چې هغه وصيت پرې ايښے نه دے او داسې هيڅ د جائيداد د وصيت کولو روايت موجود نه دے او نه د دې ضرورت ؤ". د هغه نېك فطرت او رښتياګويي په باره کښې په خپله وايي:

درزي لاګز لري، مقراض سوزن لري
يو جمدر ګوتې، خوشحال خيرن لري

کوچ يې اسان دے، مشکل هيڅ نه دے
غم د يارانو، درد د وطن لري (۱۷)

مېجر راورټي په خپل کتاب د افغانانو د شاعري په منتخبات کښې د اخيري وصيت په حقله داسې ليکي چې:

He particularly charged, those few of his children and friends new who had remained faithful to him through all his trials and with fortunes that they should bury him these to use his own words". The dust of hoofs of the Mughal cavalry might not light upon his grave and they should conceal his last resting place, lest the Mughals might seek it out and inset the ashes of him at whose name, whilst in life, they quailed, and by whose sword, and that his clansmen, their best troops had been scattered like chaff before the gale. (18)

"(هغه خپلو هغو زامنو او دوستانو ته خصوصي هدايت کړے ؤ چې د ده وفادار پاته شوي وو او د ژوند په سترو او ستومانيو کښې يې ملګرتيا ورسره کړې وه. دا وصيت کړے ؤ چې دوئ داسې ځائ پټ (دفن) کړي چې د هغه په خپلو الفاظو کښې د مغل د فوځونو د اسانو سوو او ګرځونه د ده په قبر نه پرېباسي. او بل دا چې د ده قبر پټ وساتي چې مغل د هغه بې حرمتي و نه کړي، د هغو د نامه چې سخته وېره يې ځنې کوله، چې د هغې کورنۍ د توري د لاسه په ژوند کښې د دوئ زورور فوځ داسې تيت و پرك شوے ؤ لکه د طوفان په مخ کښې خسې).

علامه اقبال په بالِ جبريل کښې د خوشحال د وصيت په نامه نظم کښې دغه کتاب لوستے وو او هم دا موضوع يې د شعر په بڼه داسې څرګنده کړه:

قبائل هون ملت کی وحدت مین گم
نه هو نام افغانيون کا بلند

محبت مجهے ان جوانون سے هے
ستارون پر جو دالتے هين کمند

مغل سے کس طرح کمتر نهين
کوهستان کا يه بچه ارجمند

کيون تجهـ سے اے همنشين دل ك بات
وه مدفن هے خوشحال خان کو پسند

اړا کر نه لائے جهان بادِ کوه
مغل شهسوارون کا گرد کمند (19)

د خوشحال بابا په کلياتو کښې د ژوند د وروستني وخت داسې هيڅ شعر په لاس نه راځي چې د دې وصيت يادونه دې پکښې شوې وي، بلکې دا و خپلو زامنو او دوستانو ته چې په مرګ باندې حاضر وو وئيلي ؤ، حالانکې د اشرف خان له شعرو څخه يو زوئ هم باندې حاضر نه وو. خو حسن خېلو، افريديو او نورو عزيزانو ته يې دا وصيت کړے ؤ چې د دۀ قبر له مغلو څخه پټ وساتي. هم

دغه وصیت هغو پر ځای کړئ چې خوشحال بابا په ډېره کښې د توتکۍ په علاقه د حسن خېلو افرېدیو چې د دریاخان افرېدي کورنۍ وه چې د خوشحال بابا دوستي ورسره وه. د خوشحال قبر پټ ساتلے شوے ؤ. او امکان شته چې هغه وخت دي دوئ امانتاً پټ کړے وي او وروسته عزیزانو د هغه وجود بیا تر ایسوړي بالاپورې را رسولے وي. دویم امکان دا هم کېدائ شي چې په پټه دي د خان لاش تر ایسوړي بالاپوري را رسولے وي او تر ډېري مودې دي قبر پټ ساتلے شوے وي. نور امکان هم شته چې په ډهمبره کښې هم د هغه د لومړي امانتي قبر نخښه تر ډېري مودې د خلګو په روایاتو کښې ژوندۍ وي. خو د ایسوړو د قبر روایت زیات مستحکم دے چې روغ نسل یو د بل په شفاهي روایت له یوې زمانې څخه تر بلې پورې په تواتر را رسېدلے دے.

د خوشحال بابا د قبر پټولو اندېښنه له دې څخه هم په ښهٔ توګه اندازه کېدائ شي چې خوشحال بابا د بایزید روښان په حال خبر ؤ چې د هغهٔ د قبر سره څه سلوك شوے ؤ. چې زامنو یې په تابوت کښې د ځان سره څو عمر ګرځولے او ډېر وروسته یې پټ کړے ؤ.

افضل خان چې د خپل پلار جنت نښان اشرف خان د مرثیې حواله ورکوي چې د پلار په مرګ یې لیکلې وه او هغه وخت د مغلو په جېل کښې په هند کښې بند وو. د هغه څخه دا جوته ده چې د خان په مرګ باندې د خپلو زامنو څخه هیڅوك موجود نه وو. اشرف خان داسې لیکي:

یعنـــي نـــن هغـــه امـــام د ننګیـــالیو
پـــه ډنبـــره غریـــب ولاړ ډکـــه یـــې خـــوا ده
مســـافر شـــه هغـــه شـــېر د جبـــالونو
چـــې زهـــره ځنـــې اوبـــه د اورنـــګ شـــاه ده
نـــه یـــې ځـــوئ پـــرې حاضـــر نـــه بـــرادر وه
ســـاه یـــې قبضـــه لـــه غمونـــو پـــه صـــحرا ده
نـــه یـــې مـــخ پـــه ســـترګو ولیـــده د خپلـــو
نـــه یـــې کـــړه چـــا پـــه رنـــځ کښـــې دلاســـا ده (20)

ډاکټر خدیجه فیروزالدین لیکي چې: "کله بهرام د پېښور له ګورنر څخه مرسته وغوښته چې مناسب فوځ ور واستوي او دا زوړ زمرے ونیسي.

"Khushal Khan received a warning through some of his friends well in time and one night he escape from Daur. He carried his weary old limbs our hills and dabs covering a distance of thirty miles and when the day dawned he had reached totakai. (21)

ژباړه: خوشحال خان ته د خپلو دوستانو څخه په وخت اطلاع ورسېدله او هغه د دوړان څخه فراره شو. هغه په خپلې زړې او ستومانه اسپې باندې سپور شو او غرونه شېلې (ناوې) یې د دېرشو میلو په مسافت په شپه پرې کړې چې سهار کېدۀ هغه توتکي ته رسېدلے ؤ".

دا وصیت د دوئې زامنو په ایسوړي بالاکښې تر سره رسولے ؤ .کله چې د خوشحال بابا مرګ واقع کیږي په دا وخت کښې افضل خان په جلال آباد کښې وي او په موقع هم موجود نه ؤ. تاریخ مرصع لیکي: "په جلال آباد کښې مې د امیر خان ملازمت وکړ هغه کال ورسره لاړم کابل ته، د ما د منصب تجویز یې وکړ بادشاه ته یې واستوه څۀ زر مې دما په طریق د مدد خرڅ مقرر کړه او هرڅۀ راسره څۀ سواري وو هغوئ یې علوفه وکړه چې جلال اباد لره راغلو د خان د فوت خبر راغے، دا مرثیه یې خان جنت نښان (اشرف خان) وئیلې ده. (22)

ډاکټر خدیجه فیروزالدین په خپله مقاله کښې لیکلي دي چې:

"جلال اباد لره راغلو د خان علیین مکان د فوت خبر راغے". (23)

د کامل مرحوم په اصل متن کښې دلته یواځې "خان" لیك دے معلومه ده چې د علیین مکان حواله هغې له ځانه ورکړې ده، ولې چې د قلمي نسخې حواله هم نشته.

له دې نه څرګنده ده چې د خان په مرګ موجود نه وو هغه چې کوم وصیت کړے ؤ هغه د خپل قبر د پټېدلو ؤ چې هغه حاضرو پر ځائ کړے ؤ. خو افضل خان دا هم نه وایي چې څو ورځې وروسته راورسېدلئ. که هر څو ځنډېدلے وي. درې ورځې به خامخا تېرې شوې وي. ځکه د خوشحال بابا د دفن کېدلو مراسم د افریدیو حسن خېلو او خپلو حاضرو زامنو پر ځائ کړے ؤ. تر کومه حده چې د بهرام په حقله د افضل خان د لیکلي وصیت خبره ده نو هغه د عقل سلیم څخه

ليري خبره ده چې خوشحال دي داسې وصيت کړے وي. او که چيرې څوك د افضل خان په ليکلو باور وکړي نو کله چې بهرام خان په کال **1124هـ** کښې په نوشهره کښې وفات شو او د هغه جنازه يې چچمې ته راوړه، نو د دوئ د کورنۍ څخه هيچا په هغه کښې ګډون نه ؤ کړے. که چيرې هغه د دې وصيت په ليکلو کښې سنجيده وائ نو ضرور به يې څۀ کاروايي يا حمله کوله.

ډاکټر خديجه فيروزالدين هم په دې نتيجه رسيږي چې دا وصيت سم نه دے او ليکي:

This seems to be a some what prejudiced statement Afzal deducted the date of his death from the chronograim.(24)

داسې معلوميږي چې دا بيان دروغ او د حقيقت څخه ليرې دے افضل د بهرام مړينې تاريخ داسې کښلے دے:

بهرام شادي حرام به بد حال دے بمرد **1124هـ** (**25**)

علامه اقبال چې خوشحال بابا له شخصيت او شاعري څه متاثر شوے ؤ نو هغه د راوړتې کتاب "د افغان شاعري منتخبات" لوستے ؤ چې په هغه کښې د هغۀ د دې وصيت حواله ورکړې ده خو دا وصيت بل هيڅ ځائ نه څرګنديږي. علامه اقبال په خپل مضمون:

Khushal khan khattak the Afghan warrior poet

په نامه درې مياشتيزه **Islamic Review** حيدراباد دکن کښې په کال **1928** اکتوبر کښې چاپ کړ ے ؤ او دا يې ليکلي دي چې د هغه ايډيټر محمد مارما ډيوك پکتال ؤ.

He was versatile and wrote on various subjects such as poetry, philosophy, ethics and his own autobiography which is unfortunately lost. (27)

(هغه يو متنوع او همه ګير ؤ او په ګڼو موضوعاتو لکه شاعري، فلسفه او اخلاقو باندې يې ليکنې کړې دي او هم د هغه سوانح عمري (ژوند ليك) ده چې له بده مرغه ورکه شوې ده).

علامه اقبال د خوشحال د شاعري په باره کښې ليکي چې د خوشحال په شاعري د ابتدائي مروجو عربي شاعري د حق ګوئي او د بيان سادګي او د ازادي او د جنګ سره د مينې اظهار په کښې مونده شي. (**28**)

ډاکټر سید عبدالله د هغه شاعري د عربو سره مماثل ګڼلې ده او وایي چې: "د خوشحال خان د متنبي غوندي شهسوار، جنګجو او پرګو شاعر ؤ، هغه د متنبي چې هجویات یې هم لیکلي دي. خو د هغه صحیح ائیډیل امراء القیس کیدای شي. (29)

علامه اقبال د راورټي له انتخاب څخه د خوشحال بابا د دې شعر مضمون په فارسي کښې په جاوېدنامه کښې لیکلے دے.

اوښ د بـــاره ســره کورتـــه ورغلـــے
پــه اولجــه د اوښ د غـــاړې د جـــرس دے (30)

اشـــتري یابـــد اګـــر افغـــان حُـــر
بـــا یراق وســـازد و باانبـــار در

همــــت دونـــــش از آن انبـــــار رو
مـــي شـــود خوشـــنود بازنـــګ شـــتر (31)

د دې بحث څخه دا نتیجه ګیري کوو چې علامه اقبال د راورټي هغه لیکنې لوستي دي چې د هغو د وصیت ذکر په کښې شوے دے خو د دې ذکر بل هیڅ ځای نسته، یو مستقل شفاهي روایت دے چې د هغه د زامنو او عزیزانو د خولې زمانه په زمانه تر مونږ را رسېدلے دے. تر دې حده چې اولف کیرو په خپل کتاب پټهان کښې په کال 1958ء کښې هم لیکي چې د خوشحال وړوکې ګومبته وروستني پاکبازه نسل جوړه کړې ده. ما د مزار د متولي نه پوښتنه وکړه. "دا مزار په دې ګوښه ځای کښې ګوښے ولې جوړ دے؟".

هغه ووئېل: "دا د شاعر خواهش ؤ د هغه کلیوالې سیمې خوښې وې او په ګلو مین ؤ خو پرته له دې هغه غوښتل چې په دې لویه لار د مغلو د اسونو د سومو د ټپهار نه به په لحد کښې په قرار وي. (32)

له دې ثابته ده چې دا وصیت تر وروستنۍ زمانې پورې را رسېدلے دے چې په شفاهي استناد باندې ولاړ دے. د اولف کیرو پنځلسم فصل لومړے وار په قند کښې مارچ 1958ء جلد نمبر 5 کښې په انګرېزي چاپ شوے ؤ. (33)

ډېر وروسته په اباسین د پښتو اسلام اباد کښې نومبر دسمبر 2008ء کښې اروا ښاد ایاز داؤدزي په پښتو ژباړلے ؤ. خو ټول فصل یې نه دے ژباړلے،

لـومړي شـپاړس مخونـه يـې پـرې ايښـې دي او وروسـتي لـس مخونـه يـې د نظمونـو سـره ژبـاړلي دي، د نظمونـو ژبـاړې ښـاغلي م ر شـفق کـړې دي چـې ځـاځ پـه ځـاځ شـعرونه مانـده دي او د ځينـو ذکـر نشـته. لاکـن يـو د مصـلحت څخـه ډك عبـارت د اروابښاد اياز داؤدزي له خوا له ځانه په کښې زيات شوے دے ليکي:

"خوشـحال خـان چـې د خپلـې خـاورې او قبيلـو نومونـه اخلـي پـه سـوئبلي قبليز اړخ لـړه شـان قنـدهار تـه ور اوړدېـږي خو بيـا هـم د ابـداليانو ذکـر نـه کـوي چـې د هغـه پـه زمانـه کښـې د درانـو سـتره قبيلـه هـم پـه دغـه نامـه بللـې شـوه. دوئ د هغـه انعکـاس نـه بهـر دي او داسـي معلـوميږي چـې د هغـه پـه نـزد څـۀ اهميـت نـه لـري. د خوشـحال خـان خټـك بصـيرت د پېښـور او کوهـاټ د واديـو د هغـه د غرونـو چـې د سـوات نـه تـر کوهـاټ پـوري د روغـې سـيمې نـه گېـر چـارپېر ولاړ دے، محـدود دے. (34)

د دې عبارت په حقله اولف کيرو داسې ليکلي دي:

The struggle for Kandahar, outside the normal geographical purview of this record, explains so much of the later affinities and distinction between the various groups of Afghan and Pathan tribes that it is necessary to refer to it have in some detail. With it is bound up the story of the emergence of the Abdali ( later Durranis) of whom we now hear for the first time. (35)

ژبـاړه: (د جغرافيـايي او تـاريخي نخښـو د ثبوتونـو لـه احـاطې څخـه بهـر د کنـدهار د حرکـت او جنبش پـه حقلـه د پښـتنو د گڼو قبيلـو پـه حقلـه ډېـر وضـاحتونه شـته چـې د هغـوئ د سـيمه ايـز يـووالي او بېلتـون پـه حقلـه د افغـان او پټهـان قبيلـو تـر مـنځ د څـۀ فـرق دلتـه حوالـه ورکـول ضـروري ده د دې سـره د ابـداليانو (وروسـته درانـي) د نهضـت سـره تـړون لرونکـې قصـه را ولاړيـږي چـې دلتـه مـونږ پـه لـومړي وار دوئ اورو).

د اولـف کېـرو د تـاريخ تـر ټولـو متنازعـه فيـه موضـوع هـم دا ده چـې هغـه د انگرېـز نيـولي پښـتنو تـه پټهـان وايـي او تـر ليکـې هـا خـوا خلـک افغانـان بـولي. دا د انگرېـز پاليسـي وه چـې پښـتانه پـه بېلـو بېلـو نومونـو ووېشـي. او پښـتانه مـؤرخين د دې سـره اتفـاق نـه کـوي او ايـاز داؤدزے مرحـوم دا پـه سـر کښـې ليکلـې وه. د دې عبـارت يـو خـود سـاخته مفهـوم يـې پـه خپلـو تـورو کښـې پـه اولـف کېـرو

پوري وتاړه چې د انګرېز د راپاروليي تحريف څخه ځان خلاص کړي او د خوشحال بابا له دې شعر څخه اولف کېرو او اياز مرحوم په خپله اعتنا کړې ده:

درست پښتون له کندهاره تر اټکه
تل ولاړ د ننګ په کار پټ او آشکاره (36)

سر يې هوري کندهار لم يې د مغار دے
په دا منځ کښې مېشته واړه پرې عسس دے

د اولف کېرو د تاريخ په دې فصل کښې د خېبر د جنګ په حقله د محمد امين خان د ښځې د نيولو خبره زيات د تنازع وړ ده. چې هغه په دې جنګ کښې مړه شوې وه خو مستشرقين مېجر راورټي او اولف کېرو دا خبره په ډېر ناجائزه او بدنيتي باندې په غلط روايت تمسك کړے دے. او وئېلي يې دي چې په دې جنګ کښې د محمد امين ښځه چې نيول شوې وه وروسته خپل مېړه ته نه ورتله. ولې چې هغه د ميدانِ جنګ څخه منده کړې وه او د دې بچيان ټول مړه شوي وو. په دې جنګ کښې د مغلو څلورېښت زره فوځيان وژل شوي وو. د هغه وخت يو اټالوي سياح نيکولائي مينوکي داسې ليکي چې د امين خان زوئ مرزا عبدالله چې وليدل چې مور يې د پښتنو په لاس ګرفتاره کيږي نو يې سمدستي د خپلې مور سر پرې کړ. پښتنو چې دا سانحه وليده نو يې مرزا عبدالله ووژه. (37)

خوشحال بابا په خپل شعر کښې د هغې ښځې او د بچيانو د وژنې قصه کړې او ليکلې ده او افضل خان هم په تاريخ مرصع کښې د هغې ښځې د وژنې ذکر کړے دے. ځکه د اولف کېرو دا موقف غلط دے چې هغه ښځه خپل خاوند ته نه ورتله او ليکلي يې دي چې: "وجه يې ښکاره ده"؟

ارواښاد پرېشان خټك خو په دې بحث باندې د کامل څخه هم ګيله کړې ده چې د هغې د وژنې حواله ورکوي نو بيا د انګرېزانو د حوالو څه ضرورت وو چې حتیٰ د اولف کېرو په قول خوشحال بابا په دې جنګ کښې تر جمرود تېر سوے هم نه ؤ. (38) ګوا د پرېشان خټك په خيال خوشحال بابا د پښتنو خلاف

عسس: کوتوال.

په دې جنګ کښې برخه نه وه اخستې. او استناد په تاریخ مرصع باندې کوي. اوس د تاریخ مرصع ځنې یادونې بالخصوص د خوشحال بابا وصیت د اختلاف وړ ګرځي او د هغه د غرضي لیکنو څخه دوست محمد کامل هم بېزاره دے او وایي چې:

"د افضل خان سیاسي کردار زما تر پامه له اجتماعي د پښتون د قامي نقطۀ نظره ښه نه ؤ، که څۀ هم د پښتنو دپاره یې نېك نیت او ښې پیرزوئینې لرلې خو تر څو چې یې د عملي کردار تعلق دے ورسره ورسره د احترامه ښاغلي لوستونکي به خپله رائې پخپله لګوي او قائموي. هیڅکله د ستاینې وړ نه دے. (39)

د ګوهر خان د قلب السیر 1120ء د سیرت له کتابه څخه دا څرګندیږي چې افضل خان د خوشحال بابا د مرګ شل کاله وروسته د هغه خواره واره تصنیفات او تالیفات را غونډوي او د هغه د نقل کولو دپاره کاتبان راولي. علامه عبدالح حبیبي هم تر دې له مخه د قلب السیر په حواله د دې واقعې دیادونه په کابل مجله کښې د کال 1961 څخه وروسته کړې ده. او کامل مرحوم په خپل کتاب (1630ع) کښې هم د دې یادونه کړې ده. (40)

افضل خان چې د خوشحال بابا د مرګ وروسته یې دیوان او شاعري ته پام را وګرځېدۀ نو په دې دوران کښې شل کاله تېر شوي دي ځکه خو د خوشحال بابا هغه قېمتي خپل د لاس لیکلې سوانح عمري (بیاض) هم ورك شوے ؤ چې علامه اقبال هم ورباندې سخت د خواشینۍ اظهار کړے ؤ.

❀❀❀

# حوالې


(1) تاریخ مرصع، لومړی چاپ 1974مخ 292.

(2) ایضاً ایضاً 〃 〃 مخ 293.

(3) ایضاً ایضاً 〃 〃 مخ 293.

(4) تاریخ مرصع، 〃 〃 مخ 294.

(۵) تاریخ مرصع، 〃 〃 مخ 295.

(۶) تاریخ مرصع، 〃 〃 مخ 295.

(۷) تاریخ مرصع، 〃 〃 مخ 296.

(8) Life and works of Ilustriovs Khushal Khan Khattak by Dr Miss Khadija Fairuzuddin. {D. lit 1940} Pashto Academy. Peshawar. 2007 page 223.

(9) پشتون کون؟ پروفیسر پرېشان خټك پشتو اکیډمي پشاور ص 573.

(10) تاریخ مرصع، ص 479، 480.

(11) تاریخ مرصع، ص 481

(12) سید سیف الرحمٰن، کادي او بادي څوك دي؟ اباسین رساله 1991ء کال م ګنه، ص 26- 30.

(13) راورټي، selectin From the poetry of Afghan. P p. 269. London 1862. pak. 1978 (second print)

(دویم چاپ، د البیروني مکتبې لاهور د Afghan ټکي په پښتو بدل کړے دے. چې ناوړه کرغېړنه ده. او غرض یې سیاسي دے).

(14) مولانا عبدالقادر خان خټك ژوند اوشخصیت، پښتو اکېډمي پېښور ص 53- 2002ء.

(15) اخلاقنامه خوشحال ریویو، د عبدالحلیم اثر مقاله، پښتو اکېډمي پېښور، 1988ء مخ 33.

(16) life and works. Of the illustrius Khushal Khan Khttak by Dr Khadija Fair zudin 17, 230. Pashto Acadamy Peshawar. 2007.

(17) دیوان خوشحال ، د جېل خانې پریس، مخ 584.

(18) ibid Raverty , p 146- 147.

(19) بالِ جبریل، علامه اقبال، کلیات اقبال، لاهور.
(20) تاریخ مرصع، مخ 411.
(16) دیوان اشرف خان هجري، تدوین همیش خلیل، پېښور.
(22) تاریخ مرصع، مخ 511.
(23) ډاکټر فیروزالدین خدیجه، مخ 231.
(24) ایضاً ایضاً مخ 230.
(25) حاشیه، ډاکټر خدیجه، مخ 230.
(26) lstamic culture 1928. Hyderbad Daccon India.
(27) Khushal Special Number Nov.Decom. 2008
Abasin Islamabad. {27)
د پروفیسر حنیف خلیل مقاله، خصوصي ګڼه، مخ 30- 36.
(28) ایضاً ایضاً معین رساله اسلام آباد.
(29) خوشحال او اقبال، میر عبدالصمد خان، عظیم پبلشنګ هاؤس قصه خوانی پېښور.
(29) فنون لاهور، د ډاکټر عبدالله مقاله،
(30) کلیاتِ خوشحال،
(31) جاوید نامه، فارسي کلیات، لاهور. پیغام اشنا، جولائي ستمبر 2004 اسلام آباد، د ډاکټر میر غزن خټک مقاله.
(32) The Pathan. P. 242, 1958, London.
(33) قند، مارچ، 1958ء جلد نمبر5.
(34) اباسین مجله، خوشحال خان خټک نمبر، نومبر، دسمبر 2008ء.
(35) Pathan Olaf Careo , p 222.
(36) کلیات خوشحال، محکمه ثقافت، پېښور.
(37 ستوریا د مورګو، نیکولایي مینوکي، بحواله دوست محمد خان کامل، د مغلو قصه 2 او څلورم ټوک 1907ع چاپ شوے دے، دا سیاح د اورنګ زیب معاصر ؤ او کامل مرحوم د هغهٔ بیانونه غلط او مبالغه آمېزه بللي دي، له همدې امله د هغهٔ ځینې څرګندونې د کوم تائید شهادت د ورکولو نه پرته چندان د منلو وړ نه ښکاري.

ژبـاړه شــوې پښــتو حاشــيه د محقــق عبــد اللطيف طــالبي صــاحب پېښــور، چــاپ دانـــش خپرنـــدويې ټــولنې تخنيكـــي ځانګـــه پېښـــور، **1358**/ **2006**ء ز Niccofao Mannucci.s (Storia Do Mogon by William Irvine Vol II 1907. London . خوشــحال خــان ختــك پېښــور **1952**ء پښـــتو ژبـــاړه محقــق عبداللطيف طالبي او شېرمحمد كريمي.

(**38**) پشــتون كــون؟ پروفيســر پرېشــان ختــك، دوېــم اشــاعت، **2005**ء ص **435** تا **440**.

(**3949** مـخ، سـريزه، تـاريخ مرصـع، (انګرېـزي - كامـل مومنـد، **1630** On a Foriegn approachto Khushal, p 1968. (1630) p. 138, 1985.

(**40**) د علامــه عبــد الحی حبيبــي د اروا تــر ســيوري لانــدې، عبــد الكريم بريــالے، ملا ظريف كاكړ فاونډيشن بروري روډ كوټه، مخ **238**.

(**41**) كامل مومند، مخ **134**. **1630**.

❁❁❁